AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۰۹/۱۷

شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه

اووه دیرشمه برخه

دریم فصل

د ویلیم براېډن له خولې هغه نکل چې په ۱۸۴۲ کال کې یې له کابل څخه جلال آباد ته له رسېدلو وروسته له خپلې حافظې له مخې کړی دی:

په کابل کې د جنوري پر پنځمه پوځ ته اطلاع ورسېده چې تیاری بشپړ سوی دی او د هندوستان پر لور حرکت کوو. هغه ناروغان او ټپیان چې سفر یې نه سوای کولای ډاکتر بیرویک او ډاکتر کمپبل ته پاته سول او قومانده یې د علیاحضرتي د څلورځلوېښتمي قوي لیفټینیټ ایوانز ته وسپارله سوه. کپټان ډرومند، کپټان والش، ضابط جان کانلي، ضابط ویب، ضابط واربرټن او ضابط اېري د یرغمل په توګه محمد زمان خان ته وسپارل سول.

د جنوري شپږمه: د سهار پر نهه بجې له کابل څخه د پوځ وتل پیل سول. د کابل پر سېند باندي یو پُل جوړ سو چي پیاده، توپونه، سپاره، مالونه او نور پر تېر سي. پنځم پیاده پوځ له ټولو څخه مخ کي روان وو او توپونه او غرنی قوه د جنرال اک ویتیل تر قوماندې لاندي وه؛ وروسته اصلي پوځ د جنرال شیلټن تر قوماندې لاندي روان وو او بیا نو مالونه ورپسې وه او بیا نو د شاه شجاع د پوځ شپږمه لواء وه چي زه په هغې کي روان وم. موږ تقریباً د لمرلوېدو په وخت حرکت وکړ.پر آسونو له بار توپونو او غرنیو توپونو څخه پرته نور ټول توپونه په قشله کي پاته سول. او دغه راز ډېر زیات مواد مو هم په قشله کي پرېښودل. کله چي موږ له قشلې څخه حرکت را وکړ ما ولیده چي ضابط هارډي مین دښمن وویشت او مړ یې کړ. دښمنان قشلې ته ننوتل او له دېوالونو څخه یې پر موږ باندي ډزي پیل کړې او د قشلې ټولو ودانیو ته یې اور واچاوه. هر صاحب منصب فقط دونه بار ورسره واخیست چي ورسره حیوانانو یې د وړلو توان درلود. ما شپږ یابوګان درلودل او یو نصواري رنګه یابو مي د ځان لپاره ساتلی وو. ټولو نوکرانو مي یابوګان درلودل. مګر مخکي له هغه چي له قشلې څخه را ووزو ما ولیدل چي هغه زما ګران آس چي زما کالي وربادي بار وه او زما مهتر را روان کړی وو دښمن ونیوی او زما د کالیو ډېره برخه یې ورڅخه واخیستله. موږ ډېر کرار حرکت کاوه او د شپې تر تیاري پوري مو ایله پنځه میله لاره د لوګر تر سیند پوري ووهله. څرنګه چي واوره اورېدلې نو دغه لنډه فاصله هم د ښځو او ماشومانو لپاره بیخي ډېره وه. کله چي د کمپ ځای ته را ورسېدلو دا نو ډېره خواشینونکې صحنه وه. څو تینچه واوره پر مځکه پرته وه او یوازي یوه وړه خېمه له چوړ او تالان څخه پاته وه او هغه جنرال الفینسټون ته ورسېده او ډېر نور په هغه خېمه ورسره ننوتل. ډېر پوځیان په واوره کي پراته وه او ځیني د اور پر شاوخوا باندي سره ناست ول. ما خپل ځان په پوستین کي تاو کړ او د یابو تناو مي په لاس کی ونیوی او د خپل کنډک د عسکرو په منځ کي ویده سوم.

د جنوري اوومه: کله چي سهار له خوبه را ویش سوم نو ومي لیدل چي پوځیان حرکت ته تیاری کوي. ما پر هغو هندیانو باندي چي ماته نیژدې پراته ول ږغ وکړ چي پورته سی؛ او یوازي یو څو تنه را پورته سول. کله چي مي پر نورو باندي هم ږغ وکړ نو ځینو یې په ما پوري وخندل. خپلو پښو ته یې اشاره وکړه او پښې یې لکه سوځلي لرګي داسي توري سوي وی. د دوی پښې یخ ورڅخه وړي وې او مجبور ول چي هلته پاته سي. دغه ورځ مو تر بتخاک پوري لاره ووهله. دا هم پنځه میله فاصله وه او په ټوله لاره کي ډېر زیات خلک لیدل کېدل. په دې مارش کي هم د لومړي مارش په څېر ډېر زیات مالي تاوان ورسېدی او د مارش په پای کي ډېر سخت جنګ هم وسو او ضابط شا ډېر سخت ټپي سو. دښمن غرني توپونه راڅخه واخیستل او پر آسونو بار دوه دري توپونه پر میدان پاته سول. ضابط میکارټني د خپل آس د ساتلو لپاره ډېر په زړه ورتیا وجنګېدی خو څه یې لاسته ورنه غلل او په ډېر زحمت یې ځان ایله خپل پوځ ته را ورساوه. چنداني چا د خوړلو لپاره شی نه درلودل یوازي زما سره یو څه بریان غنم یا نیني را سره وي چي کشمش مي ورسره ګډ کړي او ګوزاره مي په کوله. دلته زموږ تر مخکني کمپ لږه واوره پرته وه. دا شپه هم د تیري شپې په څېر تېره سوه او زما یابو یو څه وابنه پیدا کړل او ځین مي وربادي سست کړ. تر دغه ځایه پوري مي نه خپل نوکران او نه مي یابوګان لیدلي ول. اکبر خان زموږ سره چل کړی وو او د دې پر ځای چي یو څه مخکي کمپ جوړ کړي او مخکي له هغه چي موږ دري ته داخل سو ده سړي تیار راته کښېنولي ول او د ده ځینو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

سپرو پر خلکو باندي په فارسي ژبه ږغ کاوه چې په دوی کار مه لری مګر په پښتو یې، چې ډېر لږ اروپاییان په پوهېدل، ورته ویل چې کافران مه پرېږدی او ټول مړه کړی.

د جنوري اتمه:

په دغه ورځ سهار، د خوردکابل په دره کې، د سختو مالي او ځاني تلفاتو په ورکولو، تېر سولو. ټولي لوړي څوکې دښمن نیولي وې او زموږ پر پوځ باندي یې ښېدرېغه مرمۍ اورولې. ډېر زیات کسان قتل سول او په هغوی کې کپېټان پیټن او ضابط سټرټ شامل ول چې په نس کې ویشتل سوی وود لېدي سېل او کپټان ټروپ په شمول ډېر نور کسان ټپیان سول. کله چې موږ په خورد کابل کې د کمپ سیمي ته را ورسېدلو نو خبر سولو چې د کپټان انډرسن مشره لور ورکه ده. ټول هغه کسان چې له پوځ څخه پاته سوي او لاره یې غلطه کړې وه، دښمنان له لوړو څوکو څخه وربادي راکښته سوي ول او ټول یې وژلي وه. دا دره تقریباً درې میله اوږده ده او یوه ویاله پکښې بهیږي. دا ویاله ټوله یخی وه مګر نه داسي چې سړی دي وربادي تېر سي او ماته په دې مابین کې یوه بده را پېښه سوه. زه ګومان کوم چې د آس ځین مي سم نه وو ټینګ کړی او راسته طرف ته کوږ سوم. ځین مي پر هغه خوا راسره وګرځېدی او په اوبو کې ولوېدلم. دا نو هغه ځای وو چې دښمن سختي ډزي پکښي کولې. زه د یوې لویي ګاري لاندي پټ سوم او هلته مي د آس ځین ټینګ کړ او زه او آس دواړه له خطره خلاص سولو.

د جنوري نهمه:

موږ دغه ورځ په خوردکابل کې تم سولو او چنداني چا آزار رانه کړ. زه ډېر خوشاله وم چې له خپلو پنځو نوکرانو څخه مي درې ژوندي ولیدل. یوه نوکر ته مي یوه بوجۍ باغلي ورکړې وه او هغه خپل د اوبو مشک له پستي ډک کړی وو. په دغه ځای کې مو آسونو ته جوار ورسېدل او موږ ځانونه په پسته ماړه کړل. په دغه ځای کې اکبرخان پیشنهاد وکړ چې واده سوي افسران، د هغوی کورنۍ او ځیني زخمي افسران دي ده ته د یرغمل په توګه تسلیم سي.

د جنوري لسمه:

موږ د ورځي پر لس بجې خپل مارش پیل کړ او سمدستي حمله راباندي پیل سوه او مخکې له هغه چې هفت کوتل ته ورسیږو لاره مو د تاریکې تنګي په نوم یوه وړه او تنګه دره باندي برابره سوه. د حرکت کولو په وخت کې زموږ د ټولی یوه صاحب منصب یو څو دانې هګۍ او یو بوتل واین راوړل چې د یوې مېرمنې څخه د پاته سوي صندوق څخه یې را اخیستي وه. هګۍ یې کپټان هاکینس ته ورکړې او هغه پر موږ وویشلې. هګۍ ایشېدلي نه وې خو یخي وي او خوړل کېدلای سوای. دا ډېر خطرناک مارش وو. د دښمن له لوري پرله بسې ډزي رواني وې او یو شمېر هغه افسران او عسکر چې د واورې د ځلا له لاسه یې لار ورکه کړې وه او نه پوهېدل چې کومي خواته ځي د دښمن په ډزو لګېدلي او ټول وژل سوي وه. ما د یوناني سوداګر ښاغلي بانیس رهنمایی کوله او ما به پخپله هم کله کله د واورې له لاسه مځکه نه لیدله. په سترګو به مي یو څه واوره وموښله او بیا به مي لاره ولیده او له خپلو ټولو ملګرو څخه مي وغوښتل چې پر سترګو باندي واوره وموږي. کله چې پر تیزین باندي ورکښته سولو نو د واورې سپین والی دونه زیات نه وو مګر د دښمن ډزي زیاتي سوې او څرنګه چې په دره کې موږ ته ډېر نیژدې راتللای سوای نو ډزي یې ډېري تباه کونکې وې او ډېر زیات دښمنان خو بیخي زموږ په کرښو کې دا خلېدل او عسکر به یې وژل. پر هندي عسکرو باندي خو یخ دونه بد اثر کړی وو چې د دښمن د ډزو سره یې مقاومت نه سوای کولای نو په پوځ کې یې ټېله ټمبه جوړه کړه او کله چې تیزین ته ورسېدو نو له هغو هندي عسکرو څخه چې له کابله یې زموږسره حرکت کړی وو یوازي څو تنه پاته وه. په زخمیانو کې مي ډاکټر ډف او ډاکټر کارډیو ولیدل چې د توپ پر عرابه یې را اخیستي وه؛ مګر دوی دواړه ډېر ژر مړه سول. ډاکټر برایس درې ته له داخلېدلو سره سم په سینه کې وویشتل سو او چې مړ کېدی نو خپله وصیت نامه یې کپټان مارشال ته وسپارله. په تیزین کې موږ خبر سوو چې پر هغو افسرانو برسېره چې نومونه یې یاد سول نور کسان هم لکه سوېن، میلیس، ډېیس، الیکزانډر او وارنۍ، ایوارټ او ډاکټر ماګرات هم وژل سوي ول. کله چې ښه تیاره سوه نو موږ له لږ استراحت څخه وروسته حرکت وکړ. تسکیرۍ ته مو اور واچاوه او چې توپونه راسره وه هغه مو پر میدان پرېښودل او ډېر زیات شمېر هغه کسان مو چې زموږ سره یې سفر ته دوام نه سوای ورکولای پر هغه ځای پرېښودل. موږ د تیزین په وادي کې په ډېره خاموشي تېر سولو مګر کله چې غونډیو ته داخل سولو نو بیا ډزي راباندي پیل سوې. دا ډزي له یوه واړه سیند سره، چې دښمن سنګر پکښې نیولی وو ډېري زیاتي سولې. په دغه ځای کې، له بده مرغه جنرال شیلټن عسکرو ته د متقابلو ډزو امر وکړ او له دغه امله مو ډېر سخت تلفات ورکړل.

د جنوري یوولسمه:

موږ ټوله شپه سفر وکړ او سپاره عسکر په مخکې روان ول او په هغه سهار یې کټه سنګ ته ورسېدلو. په دغه ځای کې مو د دښمن د ډزو په اثر نور ملګري هم تلف سول. موږ یوازي لږ وخت، په هغه وادي کې، چې شاوخوا غونډۍ وربادي را ګرځېدلي وې، تم سولو. دلته کپټان ډډګین یو بیسکیټ له یوه واړه ماهي سره راکړ. دا نو په داسي وخت کې چې تېر سهار مي دوې یخي سوي هګۍ خوړلي او بیا مي هیڅ شی نه وه خوړلي ډېره مزه داره غذا وه. کله چې جګدلک ته ورسېدلو هلته مو د ځینو وحشي بوټو ریښې وخوړلې او ښه یې تازه کړلو. موږ غرمه مهال دغه ځای ته ورسېدلو او کمپ ته نیژدې ضابط فورټي ووژل سو. دلته زموږ له را رسېدلو څخه لږ وروسته جنرال الفینسټون،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جنرال شیلټن او کپټان جانسن د اکبرخان خېمې ته ورغلل او هغه ټول د یرغمل په توګه له ځان سره وساتل. موږ په یوه زړه کنډواله کې کمپ جوړ کړی وو او دښمن له غونډیو څخه ډزې راباندې کولې. کپټان سکینر ووژل سو او ډېر زیات صاحب منصبان زخمیان سول. ما د کپټان ګرنټ او کپټان مارشال زخمونه ور وتړل. د کپټان ګرنټ زامه ګډه وډه سوې وه او کپټان مارشال په سینه کې ویشتل سوی وو. بېچاره مارشال، برډ او ما یوه ورځ مخکې د هغه آس غوښې کباب کړي وې چې ویشتل سوی وو. مارشال له خپله جیبه یوه توته مالګه را وایستله. دا وروستۍ ټوټه مالګه وه او ده پر بد شګون ونیوله. زه ګومان کوم چې هغه ټوټه مالګه په واوره کې ولوېده او ویلې سوه. ده ډېر ژر وروسته وویل چې غواړي دښمن له هغو غونډیو څخه لیري کړي چې پر موږ ډزې کوي او لاره یې بنده کړې ده. لا څو میتره تللی نه وو چې وویشتل سو. موږ د جنورې پر دوولسمه له جګدلک څخه تر تیاره ماښام پورې حرکت ونه کړ. په دغه وخت کې، زه فکر کوم د جنرال الفینستون د یوه یاداشت په اثر، چې ویل یې یوه لویه حمله راباندې کیږي، موږ ته د حرکت امر وسو. کله چې موږ په دغسې ناڅاپي ډول حرکت وکړ نو دښمن زموږ د پوځ پر شاتنی برخه باندې حملې پیل کړې او ډېر زیات کسان یې قتل کړل. دلته نو ډېره سخته ګډوډي منځته راغله او ټول عسکري ډیسیپلین او انضباط ختم سو. ما د مارشال غریب آس تر جلو نیولی وو ځکه چې هغه خپل آس نه سوای بېولای. بلېیر، باټ او یو بل زخمي افسر د اوښ په کجاوه کې نقلېدل او زما سره نیژدې روان ول. موږ لا په تیاره کې ډېر مخته نه وو تللي چې زه محاصره سولم. په دغه وخت کې زما نوکر راته را وځغستل او ویل یې چې زخمي دی، یابو یې ورڅخه وړی دی او باید چې دی راسره واخلم. ما به لا خبري ورسره کولې چې چا له آسه راکش کړم او پر سر باندې یې په سپلاوه ووهلم او پر مځکه ولوېدلم. زه باید وژل سوی وای خو څرنګه چې په خولۍ کې مي اوسپنه وه نو سپلاوه پر هغې ولګېده او زما سر لږ غوندې زخمي سو. زه نیژدې بېسده سوی وم خو سمدستي را پورته سولم او ومې لیدل چې دښمن بل ګوزار ته ځان تیاروي. ما د خپلې توري وار پر وکړ او فکر کوم چې څو ګوتې مې ورغوڅې کړې او سپلاوه یې له لاسه ولوېده. ده پر یوه خوا وځغستل ما پربله؛ او خولۍ ، آس او یو بوټ مې را څخه ورک سول. نوکر مې وژل سوی وو او هغه کسان چې دلته راسره وه بیا مې یو هم ونه لیدی. ما بیرته ځان په پوځیانو پسې ورساوه او هغوی په ونو کې سنګر نیولی وو. له مخامخ غونډي څخه ډزې راباندې کېدلې او وضع ډېره خطرناکه وه. یوه له غونډۍ څخه را باندې را وځغستل او پر اوږه یې ډېر سخت ګوزار راکړ. دلته مې یوه عسکري خولۍ را پورته کړه. ډېر ژر په کپټان هوپکینز پسې ورسېدلم. د ده د آس ځین مې نیولی وو او تر ډېره ځایه پورې په دغه توګه روان وم. په دغه وخت کې یو هندوستانی موچي را باندې پېښ سو او ماته یې ویل چې زما یابو راڅخه واخله ځکه چې زه ټپي یم او مړ کیږم او دا یابو بل څوک اخلي. ما به لا ډاډ ورکاوه چې هغه له یابو څخه را ولوېدی او مړ سو. هغه غریب په سینه کې ویشتل سوی وو. زه د ده پر یابو باندې سپور سوم او د عسکرو خواته مې هی کړ. هلته مې جنرال انک وې ټیل ولیدی او د شاتنیو کسانو په باره کې یې پوښتنه راڅخه وکړه. ما ورته وویل چې وضع ډېره خرابه ده. ده هغې خواته خپل آس روان کړ او بیا چا ونه لیدی. خلکو هم د غونډیو خواته ځغاستې وهلې او هم به یې د سړک پر غاړه ځغستل. خپلې وسلې او سامانونه یې غورځول او ځانونه یې سپکول او وضع د هر چا تر کنټرول وتلې وه. په دغه وخت کې کپټان بیلیو ټول هغه کسان چې ده پیدا کولای سوای را غونډ او منظم کړل. موږ بیرته ډېر ژر حرکت وکړ. په غونډیو کې اورونه بلېدل او موږ په تیاره کې روان وو. ډزې رواني وې او څرنګه چې ښه تیاره وه نو لږ تلفات یې ورسول. په تیاره کې مې لاره ورکه کړه خو بیرته مې ډېر ژر پیدا کړه او له ملګرو سره یو ځای سوم. په دغه شپه موږ ټول له سختې تندې څخه وکړېدلو او لوڅه پښه مې د یخنی او درد له لاسه سوځېدله. له نېکه مرغه مې د یابو تر وړین ځین لاندې یوه کڅوړه پیدا کړه او هغه مې پر خپله پښه تاو کړه. سهار ګندمک ته ورسېدلو او ټول هغه کسان چې په موږ پسې راتلل راڅخه ورک سول. دلته زموږ ترمنځ اختلاف راغی. لارې دوې کېدلې. یوه لاره د غونډیو پر لور تللې او بله د نیملې پر لور تللې وه چې په یوه لوی کلي کې تېرېدله. ما د آرامی په وخت کې په دغه سیمه کې درې میاشتې تیرې کړې وې او ښه بلد وم. ما ویل چې باید د غونډیو لاره واخلو او ښاغلي بېلیس چې په پوځ کې یو کاتب وو هغه د نیملې پر خوا د تللو طرفدار وو. موږ نیمایی یوې او نیمایی بلې خواته روان سولو. هغه کسان چې د کلي پر خوا روان سول د کلیوالو په حملو کې ټول وژل سوي ول او یوازې ښاغلی بېلیس ژوندی پاته سوی وو. ما واورېدل چې هغه لږ وروسته په پېښور کې د تبې په اثر مړ سوی دی. موږ د غونډیو پر خوا روان سولو او هیڅ څوک مو ونه لیدل. دلته مو یو ګړی استراحت وکړ او آسونه مو په شنو ځمکو کې خوشي کړل. د یابو تر ځین لاندې مې کڅوړې، مرمۍ، د ځین سامانونه، یوه توپنچه، یو خنځیر او دغه راز شیان پټ ول. څرنګه چې مرمۍ یوه هم پر توپنچه نه راتله نو له نورو ټولو شیانو سره مې هغه هم وغورځولې. له نیم ساعت استراحت څخه وروسته مو حرکت وکړ. زموږ سره کپټان بیلیو، کپټان هوپکینز او کپټان کولي یر او ضابط برډ، ضابط ستیر، ضابط ګرې، ډاکټر هارپر، سرجنټ فرېل او پنځه تنه اروپایی عسکر راسره وه. له لیرې مو د فتح آباد کلی ولیدی او له جلال آباد څخه پنځه لس میله لیرې وو. دلته کپټان بیلیو وویل چې یو ځل به د هغه کلي خواته ولاړ سي او وبه ګوري چې وضع څرنګه ده. دی ژر بیرته راستون سواووې ویل چې د کلي له مشر سره مې خبرې وکړې او هغه د ډوډۍ وعده راسره وکړه. تاسې دلته معطل سی زه به ډوډې درته راوړم. کپټان بیلیو پنځه لس دقیقې وروسته بیرته راغی او ویل لکه چې ټول مې تباه کړاست. ځکه چې له هغې غونډۍ څخه چې موږ ورباندې ناست وو له هرې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوا سپاره را باندي را روان ول. د کلي مشر دې کسانو ته اشاره کړې وه او موږ یې سور بیرغ لیدلی وو چې سپرو ته یې ښوراوه. بیلیو راته وویل چې ټول یو ځای حرکت وکړی او مه سره بېلېږی. موږ کرار کرار حرکت وکړ او وسله والو کلیوالو ده ته ږغ کړل چې مه وېرېږه موږ دوستان یو. کله چې بیلیو د هغوی خواته ورغی هغوی سمدستي وواژه. کلیوالو پر موږ باندي ډزي وکړې او زموږ سپرو هم جواب ورکړ. یو تن ماته را ورسېدی او حمله یې راباندي وکړه. ما یې مخه ونیوله او هغه پر برډ باندي حمله وکړه او ځای پرځای یې وواژه. په موږ ماته ګډه سوه. کپټان هوپکینز، کپټان کولي یر، ډاکټر هارپر، ضابط سټیر او زه ژوندي پاته سولو. درې مخکې یاد سوي کسان ډېر تېز روان ول او موږ ته یې وویل چې مرسته به راته را ولیږي او په تاخت روان سول. یو څه چې مخته ولاړو ضابط سټیر راته وویل چې نور حرکت نه سي کولای ځکه چې آس یې یو ګام نه سي تللای او دی هم سخت ستړی دی. د آس تر خولې او سږمو یې ویني راتللې او نور د حرکت نه وو. سټیر وویل چې دی غواړي په یوه غار کې پټ سي او د شپې حرکت وکړي. ما چې هر څه زاری ورته وکړې چې دلته شاوخوا خلک دي او شپونیان رمې پیایی حتماً به دي یو څوک ویني او مړ به دي کړي. زما خبره یې ونه منله او ماته وویل چې ته درځه زما غم مه کوه. ټینګار ګټه نه کوله او زه ورڅخه روان سوم. یو څه لاره بېغمه روان وم او وروسته مې د تقریباً شلو کسانو یوه ډله ولیدله چې په لاره کې ولاړ ول. کله چې زه ور نیژدې سوم نو د غټو ډبرو وارونه یې راباندي پیل کړل. ما خپل یابو وځغلاوه. د آس کیزه مي په غاښو کې ونیوله او دواړو خواوو ته مي د توري وارونه کول او په خلکوکې را تېر سوم. دوی په ما پسي له خپلو سپلاوو سره را ونه رسېدل او یوازې په یوه یا دوو ډبرو ولګېدلم. یو لږ چې مخکې ولاړم یوه بله ډله خلک را باندي پېښ سول. ما پر خپل یابو باندي د توري څوکه کښېکښېه او تېز تللو ته مي مجبور کړ. زه له دوی څخه را تېر سوم او ومي لیدل چې یابو مي په ورانه کې زخمي سوی دی. خو زه همداسي کرار کرار روان وم او وروسته مي څو تنه په سره لباس کې سپاره ولیدل. ما د خپلو عسکرو خیال ورباندي وکړ خو هغه افغانان ول او یو مي ولیدی چې د کپټان کولي یر پر اس باندي سپور وو. ما کوښښ وکړ چې له دوی څخه تېر سم مګر یابو مي تېز نه سوای تللای او دوی یو تن را پسي را ولېږی هغه پر ما باندي د سپلاوې واری وکړ او ما یې په خپله نیمایی توره مخه ونیوله توره ولوېده او لاستی یې را پاته سو. دی تر ما تېر سو او بیرته را باندي را وګرځېدی او چې را نیژدې سو ما د توري د لاستي واری پر وکړ او ده مي کیڼ لاس را زخمي کړ. دا لاس مي له کاره ولوېدی او غوښتل مي چې کیزه را پورته کړم او کوږ سولم. زه ګومان کوم ده فکر وکړ چې زه توپنچه را باسم او له دغه امله زما څخه لیري سو. ما په توپنچه پسي وکتل خو هغه تللې وه. اوس نو زه هم بې وسلې وم هم زخمي وم او هم مي یابو غریب له حرکته لوېدلی وو. زه پوه سوم چې جلال آباد ته نه سم رسېدلای. زړه مي ولوېدی او له سیوري څخه بېرېدلم. زه نیژدې له یابو څخه لاندي را لوېدلی وم چې په دغه وخت کې له قشلې څخه زموږ خپل عسکر را ورسېدل. په دوی کې لومړی کپټان سین کلېر وو او د هغه نوکر خپل بوټ زما په پښه کړ. زه یې قشلې ته بوتلم. ډاکټر فورسیت مي زخمونه پټی کړل. د ډوډۍ تر خوړلو ورسته مي د آرامی احساس وکړ او ټوله شپه ښه ویده سوم. په قشله کې مي تر ټولو ښه مېلمه پالنه کپټان فرانسیس کننینګهم وکړه چې د جلال اباد د محاصرې تر ختمېدلو پوري د ده په اتاق کې ورسره دېره وم. زما چپه لاس، سر او چپه زنګون زخمي وه او نور نو جوړ وم. یابو مي یوازې یوه شپه ژوندی وو او سهار ته مړ سو. کله چې ما د قشلې کسانو ته د کابل د پوځ د تباهی او خپلو انډیوالانو کیسه وکړه نو جنرال سېل سمدستي عسکر ولېږل چې که نور څوک هم په لاره کې پاته وي مګر هغوی د کپټان هوپکینز، کپټان کولي او ډاکټر هارپر مړي پیدا کړي ول. قشلې ته زما له رسېدلو څخه یوه شپه وروسته یوه سړي ښاغلی بانیس قشلې ته راووست. بانیس، هغه وخت چې زموږ عسکرو له جلال آباد څخه کابل ته حرکت کاوه، د دغه سړي د توت باغچه د سیکه عسکرو له تباهی څخه ژغورلې وه. ښاغلی بانیس یوازې یوه ورځ ژوندی وو. هغه ډېر ستړی ستومان او له لوږې او یخنی څخه ډېر زیات کړېدلی وو. (لارنس ص ص ۳۰۵-۳۱۵)

د انګرېزانو عسکرو او د کمپ خدمه ته ډېر زیات تلفات، د حرکت په دریمه شپه، د خوردکابل په دره کې ورسېدل. په دې دره کې، څه باندي دوې میاشتي مخکې، جنرال سېل هم له مقاومت سره مخامخ سوی او سخت تلفات یې یې لیدلي وه. ویل کیږي چې د خوردکابل په دره کې د انګرېزانو درې زره عسکر او خدمه تلف سول. انګرېزي مېرمنو، په خپلو ماشومانو پسي، یوې خوا او بلې خواته ځغستل. په دې دره کې د انګرېزانو ډېر صاحب منصبان ووژل سول چې په هغو کې کپټان پېټنټ او لیفټینیټ سټرټ، چې د جنرال سېل زوم وو، شامل ول. ورپسې شپه ښه ډېره واوره ورباندي وسوه؛ په همدغه ډول یې تلفات ورکړل او ډېر زیات کسان له یخنی او لوږې تلف سول. (ایکسپیډیشن ص ۳۷۹)

دوې شپې وروسته، دوی جګدلک ته ورسېدل. دلته اکبرخان د انګرېزانو له پوځي مشرانو سره وکتل. له هغوی سره یې په ډېره مهرباني سلوک وکړ او ټولو ته یې ښه ډوډۍ ورکړه. صاحب منصبانو له هغه څخه وغوښتل چې د پوځ باقي پاته برخه له حملو او تلفاتو څخه وساتي. اکبرخان د دوی پیشنهاد وامنه مګر وې ویل چې جنرال شیلټن او کپټان جانسن دي د یرغمل په توګه ورته وسپارل سي. اکبر خان دغه راز ژمنه وکړه چې د پوځ باقي پاته کسانو ته به ډوډۍ او د ضرورت مواد ورسوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اکبرخان یو ځل بیا ژمنه وکړه چې د دوی د باقي پاته قوي او سړیو ساتنه به وکړي خو دا یې هم وویل چې د دې خلکو کنټرول د ده تر وس وتلی دی. هغوی په زوره ناري وهلې چې بل هیڅ نه غواړي او یوازي د انګریزانو وینو ته تږي دي. اکبر خان د غلجیو مشرانو او خلکو ته وویل چې که تاسي انګرېزان قتل کړی نو زما پلار او کورنی چې له هغوی سره بندیان دي هغوی ته هر څه پیښېدلای سي. مګر د ده پر خبرو او غوښتنو چا غوږ ونه نیوی. بالاخره یې د هغوی مشرانو ته دوه لکه روپۍ ورکړې او هغوی وویل چې نور له انګرېزانو سره کار نه لري. مګر ایله خبري پای ته رسېدلي وې چې حملې بیا پیل سوې. په دې وروستیو حملو کې نو ټول پوځ تباه سو. جنرال انکویټیل، کپتان نیکول، چې انګرېزي منابع یې د خپل پوځي تاریخ له قهرمانانو څخه بولي، په دې حملو کې له منځه ولاړل؛ او یوازي یو څو تنه افسران ژوندي پاته سول. (هغه کتاب ص ص ۳۸۲-۸۳)
نور بیا

تلفات:....

عبدالباري جـهاني

[شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه, شیرړ دیرشمه برخه]

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ